ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۳/۲۹

# دوه انسان ژغورونکي طبيبان

د ۱۹۲۲م کال د جولايي ۲۸مه نېټه وه، د کاناډا دوه طبي ساينسپوهان (فريډريک بېنټېنګ او چارلس بېسټ) له خپلو نويو ايجاد کړو انسولينو (pancreatic hormone) سره د ټورنټو ښار (جان ميکلوېډ) روغتون د ماشومانو د شکري ناروغۍ وارډ ته ورسېدل. په وارډ کې د ماشومانو حالت کوما ته رسېدلی و، زياتره يې بې هوښه او د ketoacidosis له امله مرګ ته نيږدې وو.

تصور وکړئ چې ميندې او پلرونه له ګڼې ګوڼې په ډک وارډ کې د خبلو ماشومانو سر ته ناست دي او د مرګ شېبې يې شماري.

په همدې وخت کې دواړه پوهان هر ماشوم ته ورغلل او يوه يوه ستنه/ پيچکاري يې ورکړه. تر څو چې وروستي بې هوښه ماشوم ته رسېدل، نو لومړی ماشوم په هوښ راغی. ورو ورو هر ماشوم بيدارېده او په دې سره هر لور ته د مرګ او غم پرځای د خوښيو او هيلو څپې خپرې شوې.

دا د طب په نړۍ کې بيخي ځانګړې او نه منل کېدونکې شېبې وې، چې يوې وژونکې ناروغۍ ته يې درمل ورانديز شول.

تاريخ يوازې د هغوی منته کوي چې د علم، طب او اختراع په بنه يې د خلکو خدمت کړی وي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ